# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۲۲ نومبر ۲۰۱۶

## دوه پنځوسم مجلس(خلکوته دغناپه سترګه کتل)

دجمعې په ورځ سهار د ۵۴۵هجری قمری کال دروژی دمیاشتی په دریمه، شیخ عبدالقادرګیلانی(قدس سره) په مدرسه کی داسی وفرمایل :

(ای قومه) خدای لوری ته بیره راوګرځی،اوله خلکووتښتی. دنیا پریږدی اوپه زړه اوخان سره خدای ته مخ راوړی. آیا دحق کلام موندی اوریدلی چی فرمایی :(أَلَاإِلَى اللهِ تَصِيرُالْأُمُور)-"پوه شی چی ټول کارونه خدای ته راګرزی. سوره شوری آیه ـ ۵۳".

(ای دخدای بنده) خلکوته دبقاء په سترګو مه ګوره، بلکه دوی ته دفنا په سترګووګوری، دوی ته دګټی اوياتاوان سترګی مه نیسی، بلکه دوی دعجز اوناتوانی په حال کی وګوری. خدای په یګانګی سره وپیژنی اوپرده توکل وکړی، اوبیهوده په هغه څه پسی چی دخدای په نزد بی ارزښته دی مه ځغلی. دنیا اوهرڅه چی په هغې کی دی دپاملرنی وړندی، اوټول تغیرات اوبدلونونه یی دپاملرنی وړندی. دمومن زړه له دغه ډول مسایلوڅخه فارغ دی، خصوصا که دمادی وسایلو اوسببونودقید څخه فارغ وی، ولی هرکله که داهل اوعیال داړتیالپاره سببونو ته ضرورت پیداشو، په ظاهره هغی ته پاملرنه کوی، ولی باطنا دحق په حضورکی وی، ځکه باوری دی چی هرڅه چی مقدروی ، وبه رسیږی، لذا نورد ډیرواولږووپه طلب کی ندی، نه دمقسوم له ځنډ څخه مایوسه دی،اونه هم دبیړی غوښتونکی دی، ځکه ورته څرګنده ده چی هرڅیز ځانګړی زمان لری، دغه ډول افراد عاقلان اونیک اندیشان دی، اوهغوی چی تل دډیرو اولږو اوپه بیره اوځنډ پسی دی، لیونیاندی، خدای پاک دهغه چا دوست دی چی په هرحال کی له خدایه راضی،دټولو مقدراتوپرورراندی صابره وی، اوله همدی سببه دی چی دی دتوفیق په لاره هدایت کوی، اوده ته وایی"أَنَا رَبُّکَ". همداسی چی دغه خطاب موسی علیه السلام ته ورسید، موسی ته یی په ظاهره خطاب وکړ، ولی دعارف زړه ته الهام کیږی، چی دغه لطف اوعنایت عارف دباطن په غوږو اوری، اودا دپیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) دکرامت په سبب دی.

دپیغمبرانومعجزی په ظاهره دی اوداولیاءالله کرامات په باطن(۱)!

اولیاء(عامل علما) اودانبیاو وارثان دی، اودوی دی چی دخدای دین دجن اوانس شیطان له شره څخه ساتی. ته دخدای اودهغی درسول په پیژندنه سره جاهل یی، ای منافقه ، ته نه پوهیږی چی د(اولیاءالله) قوم په کوم مقام اومنزلت کی

دی، ته په ظاهره دقرآن تلاوت کوی، ولی نه پوهیږی چی څه غواړی، عمل کوی ولی دهغی لپاره ښکاره اوځرګندلوری اوموخه نلری، ستا دغه کړه دهغی دنیا سره ښایی چی آخرت په ځان پسی ونلری، ددی کارپایلی به وروسته درته ځرګندی شی.

عاقل اوسه، توبه وباسه، لال اوګنګ شه، ته له خدایه، دخدای له رسوله اوداولیاءالله له مقامه بیخبره اوناآګاه یی، لازمه ده په توبه کی زیاروباسی، سکوت غوره کړی، اوپخپل حال باندی فکروکړی. دهغه وخت په هکله چی په قبرکی اوسی فکروکړه، دخدای دلاری په هکله فکروکړه ترڅودرته نورعطا کړی چی په هغی به دنیا اوآخرت دواړه روښانه وګوری. هغه څه چی درته وایم ومنه اوپه هکله یی زیاروباسه، په هوا اوهوس سره زړه مه تړه،سرنوشت دمسولیتونو څخه داوړی خالی کولو لپاره بهانه مګرزوه، په ټینګ هوډ سره ملاتړلی پرته له چون اوچرا څخه دخدای په لاره کی په عمل لاس پوری کړه، پوه شه چی مونږ یوازی زیارباسو اوخدای پاک هم فاعل مایشاء دی :(**لایُسْأَلُ عَمَّا یَفْعَلُ وَهُمْ یُسْأَلُونَ**).

ای ددنیا طالبه، ای دحراموخوړونکیه، څرنګه دزړه دنوراودباطن دصفا طمع لری.؟ پوه شه چی دقوم وینا دضرورت پروخت ده، خوب یی دغرق شویو خوب، خوراک یی دناروغانوخوراک، اودا مداومت لری ترڅوچی یی مرګ راورسیږی، دوی دملائکوپه شان دی، چی خدای یی په هکله فرمایلی :(**لایَعْصُونَ اللهَ مَا اَمَرَ هُمْ وَیُفْعَلُونَ مَا یُؤْمَرُونَ**)-"په هغه څه چی ګمارل شوی دخدای نافرمانی نه کوی، بلکه په هغه څه چی امرشوی ترسره کوی. سوره تحریم آیه.۶"،

(ای قومه) زما وینا په ایمان سره واوری، ځکه زما کلام دزړونو روښنایی ورکوونکی ده، پس په زړه اوباطن ورته غوږشه، ظاهراوباطن ته به موهوساینه ورسوی، اودنفس اوهوا قدرت به مومات کړی، اودشهواتواوربه مړکړی. پوه شی چی زیانبارترین شی چی پری ککړیاست، شهوتونه دی، چی دنیا ته موراغب کوی، اوفقرموپه نظر زښت کوی، بالاخره موپه هلاکت کی اچوی.

یوه دبزرګانوڅخه(دخدای رحمت دی وی پری) ویلی: "دتقوی حقیقت دادی چی، که هرڅه په زړه کی لری، په یوه سرلوڅی طبق کی یی کښیږده اوپه بازارپی وګرزوه، په هغی داسی شی ونه اوسی، چی پری شرمنده شی". ای جاهله څه شی ته دی ته وادارکړی یی چی له تقوی څخه لیری اوسی؟ اوکه څوک درته ووایی چی تقوی غوره کړه اوله خدایه وډارشه، په قهرکیږی، کله چی درته ویل کیږی حق ته غوږشه، سستی کوی، اوکه څوک موله کړوڅخه انکاروکړی، په هغی غیظ نیسی، منتهی قهردی له ده پټوی. دمومنانو امیرحضرت عمرفاروق( رضی الله تعالی عنه) فرمایلی:(څوک چی له خدایه وبیریږی،دخدای دامرپرواندی دنوروپه نسبت خپله غصه نه پټوی). متعال خدای په قدسی حدیث کی فرمایلی :(**کُنْتُ اُحِبُّکُمْ لِمَا اَطَعْتُمُونِی فَلَمَّا عَصَیْتُمُونِی بَغَضْتُکُمْ**)-"ترکومه چی زما اطاعت کوی، تاسوراته ګران یاست، اوهرکله که نافرمانی مووکړه په تاسو په قهرکیږم".

تاسو په خدای پاک ګران یاست، نه داړتیاله مخی، بلکه ستاسوپرورواندی دلطف اوعنایت له مخی. پس پوه شه چی پرخدای تاسو درحمت له مخی ګران یاست، نه دځان لپاره، ستا طاعت اوبندګی په دی خاطرخوښوی چی ستا سوپه ګټه ده. پس تل باید دداسی ذات په یاد اوسی چی تردی حده تاسو پری ګران یاست. دهغه چاڅخه چی تاسو دخپلو ګټولپاره ګران ګڼی، لیری اوسه. ریښتینی مومن هرڅه دنسیان په لاسو لاهوکړی، اویوازی دمولا په یاد دی، په دی مقام کی ورته قرب اوریښتینی ژوند ورته حاصل کیږی، اوتوکل یی کمال ته رسیږی، اوتوکل هم دده ددنیا اوآخرت چاری سمبال اوتعهدکوی. هرکله که دبنده توکل اوتوحید دکمال حد ته ورسیږی، خدای ورسره داسی چلند کوی لکه دابراهیم خلیل سره یی کړی، چی هغه یی په معنی اوحال باندی آګاه کړی، دمعنوی خوراک اوڅښاک نه یی پری وخوړل او

وځبنل، اودخپل قرب سره یی ورته ځای ورکړ، په دی حال کی یی رابطه له خدای سره په معنی اوباطن کی ټینګه شوه،نه دصورت اوظاهرله مخی.

آیا له دی ځخه نه شرمیږی چی حرص اوطمعی ته دسمتګرانو خدمت اودحرامو خوړو ته وادارکړی یی؟ ترڅو له دی حرامو ګټه پورته کوی اودپادشاهانو اوسلاطینو خدمت ته دی ملا تړلی؟ پوه نه یی چی ددوی دقدرت بساط ډیرژرپه ټولیدو دی؟

دحق خدمت ته ملازم اوسه چی لایزاله اوابدی قدرت دی .عاقل اوسه اوله دنیا ځخه په لږو قناعت وکړه، ترڅو په آخرت کی ډیرونعمتونو ته ورسیږی، خپله مقسومه روزی دزهد اوتقوی په لاسونو سره وخوره، اودمولا په درګاه مقیم اوسه نه دسلاطینو اوپادشاهانو اونه دطبع اوهوی اودنفس دشیطان په خدمت کی. هرکله که دی له دنیاځخه خپل قسمت ترلاسه کړ، اوزړه دی دمولا په خدمت کی و، دانبیاواوفرشتوټولی ارواګانی به دی یاری وکړی. عاقلان وایی: مونږخپل قسمتونه اوبهری هم دمولا په وړاندی اودده په صلاح دید کی قرارورکوو، نه په یوازی توګه په کوروکی. زاهدان په جنت کی متنعم کیږی، طعام اوشراب یی دحق انس اوقرب اودحق عزّ وجلّ دیداردی، دنیا یی به عقبی پلورلی، اوبیایی عقبی هم په لقاءالله سره معاوضه کړی. راستانودخدای په محبت کی دنیا اوآخرت دواړه په یوه دیدارمعامله کړی. اوله دواړوجهانونوپرته له خدایه بل څه نه غواړی، اوهرکله که دغه بیع اومعاوضه اتمام ته ورسیده دکرم دریاب په جوش راځی، اودنیا اوآخرت دواړه ورته راکرځوی ترڅو دطبع په مقتضی تری ګټه پورته کړی، په داسی حال کی چی هیڅکله هم ځان دهغی اړ نه بولی، دغه ټول عملونه یی د الهی قضا اوقدرسره په موافقت کی دی، اودمولا په حضورکی دادب مراعات، اووایی :(وَاِنَّکَ لَتَعْلَمُ مَا تُرِیدُ)-"هررنګه چی غواړی مونږته یی رازده کړه".

**لویه خدایه، مونږته داسی زده کړه چی پرته له تاڅخه ځانونه له نوروبی نیازه وګڼو. مونږته رازده کړه چی له لوږی، تندی، اوپستی سره چی ستا غوښتنه وی، سازګاره اوراضی اوسو، اوستاپردرګاه په خاپوړو** .په مجرد چی دغه امرترسره شو اومطمئنه نفس حاصل شو،خدای درحمت اورأفت په سترګو ورته ګوری، اوله ذلته نه یی عزت اوله فقرنه یی بی نیازی ته رسوی(ده ته دطبع استغنا ورپه برخه کوی)اودقرب مقام په دنیا اوآخرت کی ورپه برخه کوی.

مومن ددنیا له حرص څخه ډډه کوی، اودزهد جانب مراعات کوی. زهد دباطن ککړتیاوی اوتیاری پاکوی، زړه ته آرامش ورکوی ، وروسته بیا دقدرت لاسونه دزړه څخه حجابونه لیری کوی اوبنده نورپه دنیا بوختیا په ټوله سره له لاسه ورکوی،اوسرترپایه حق ته متوصل کیږی، دشریعت داوامرو په ترسره کولو لاس پوری کوی، چی دده اونورو ترمنځ مشترک دی، سترګی پرانیزی، خپل اودنورو عیبونه وینی، اودهغوی په اصلاح کی زیارباسی. بنده په داسی مقام کی پرته دخدای ترلوری سره آرامش نلری، دغیرخدای څخه نه اوری، دنوروڅخه ویری اوهیلی ته پاملرنه نکوی، اوپه ټوله سره دخدای سره بوخت کیږی، په پایله کی پاداش ته رسیږی، چی نه سترګوهغه لیدلی وی اونه هم غوږو اوریدلی وی اونه دچاپرزړه تیرشوی وی.

(ای دخدای بنده) لومړی په ځان لاس پوری کړه، بیا دنوروپه فکرکی اوسه. دشمع په څیر مه اوسه چی خپله وسوزی اونور رڼا کړی. دنفس دهوا له مخی په کړوکی مه ننوزه، ځکه که خدای په کوم کاراراده وفرمایی نووسایل به یی درته چمتوکړی. اوکه خدای وغواړی تانوروته په ګټه رسولووګماری، ثبات اوله خلکو سره مدارا اودنورو درنځ منلوتوان به هم درته درکړی، زړه به دی پراخه کړی، اوپه هغی کی به دالهی احکامو دمنلوقدرت هم ځای په ځای کړی، سِراوباطن به دی په نظرکی ونیسی، اوپه دی حال کی به په خدای کی فانی شوی وی،اوځان به له لاسه ورکوی. عزّوجلّ خدای فرمایی :(یاداوُدُ اِنَّا جَعَلْناکَ خَلِیْفةً فِی الْاَرْضِ"-)-"ای داوده، مونږ ته په ځمکه خلیفه اوځای

ناستی ګمارلی یی. سوره ص. آیه ۲۶" دغه باارزښته وینا(انا جعلنک خلیفة) ته په غورځیرشه، اونه فرمایی: (انت جعلت نفسک) تاخپله ځان داسی کړی،بلکه دخدای له لوری ماموریی. داولیاءالله قوم له ځانه اراده اواختیارنلری، په ټوله سره دحق دامرپه اختیار اوتدبیرکی دی.

ای دحق له سمی لاری لیری شویه! ته دکامل اومقنع حجت اوبرهان ښخه بی برخی یی، پس له محاجبی ښخه لاس لیری کړه. ته چی مستقیمه لاره په مخ کی لری، اوحلال اوحرام درته ښکاره دی، نورکوم څه دحق پروړاندی ګستاخی اوجسوری ته وادارکړی یی؟ کوم څه ستا خوف له خدایه کم کړی دی؟ کوموعواملو دحق له دیداره کاهل او سست کړی یی؟ پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی :(**خِفْ مِنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ کَأَنَّکَ تَراهُ، فَأَنْ لَمْ تَکُنْ تَراهُ فَإِنَّهُ یَراکَ**) "-له خدایه داسی وویریږه چی ګواکی هغه وینی ، اوکه هغه نشی لیدای ،هغه تاوینی" .

بیداران اوهوښیاران خدای دزړه په وسیله وینی، اوپراکندګی یی په مجموعیت باندی بدلیږی، داسی لکه چی په قالب کی تویی شوی وی اودیوه واحد صورت په ځیرراغلی دی. ددوی اوخدای ترمنځ ټول حجابونه لیری کیږی، مبانی یی ترمنځ لیری کیږی اومعانی پکی ځان نیسی، وسایل منقطع کیږی، اوظاهری اربابان برکناره کیږی، اونوروړته پرته له خدایه بل څه نه پاتیږی. ګفتار، حرکت اوخوشحالی له لاسه ورکوی،ترڅو پدی مقام باندی نایل شی، اوکله چی په دی امرنایل شول نومقصود ته رسیدلی دی. لومړی ددنیا له بندګی ښخه دباندی وزی،بیا په ټول وجود په خدای وصل کیږی. اوتل په کور، بازار اوهرځای کی ترآزماییښت لاندی وی (**لِیَنْظُرَ کَیْفَ تَعْمَلُونَ**)-"ترڅو ووینی چی څه ډول عمل کوی".په دی مقام کی سِرپادشاه، زړه وزیر اونفس اونورغړی خدمتګاران اوچاکران وی.سِردحق له دریابه ښبی، زړه له سِرڅخه سیرابیږی، اومطمئنه نفس هم له زړه استفاضه کوی، ژبه له نفس ښخه بهره اخلی، اوغړی له ژبی ښخه برخورداره کیږی.

هرکله که ژبه صالح وه، زړه به هم اصلاح کیږی، اوهرکله که ژبه فاسده وه ، زړه هم فساد اوتباهی ته کشوی. پوه شه چی ژبه دتقوی اوتوبی پری ته اړه ده، ترڅوله بیهوده اونفاق اچونکی ګفتاره ډډه وکړی، اوکه دی دامرمتحقق کړ، دژبی فصاحت به دزړه په فصاحت تبدیل شی، اوپه پایله کی به زړه منورشی، اودنوراغیزه به یی ژبی اونورو غړو ته هم ورسیږی،اوپه دی حال کی به وینا ته مقربه ژبه وویل شی، اودقرب په حال کی به ژبه له دعا اوذکره خاموشه شی، ځکه دعا اوذکردبعد ژبه ده اودلیری والی، اودقرب ژبی لره سکوت اوخمود لازم دی، چی یوازی په دیدن اودباطن په بهره مندی قناعت کوی.

**لویه خدایه، مونږدهغوکسانو له ډلی وګرزوه چی په دنیا کی دزړه په سترګوستا دجمال مشاهده کوی، اوپه آخرت کی دظاهرپه سترګو ستا جمال اوعظمت ته کتنه کوی.**

**و"آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقناعذاب النار)آمین.**

---

(۱)-کرامت دقرآن له نظره دخدای په نزد دبزرګی اومحترم ګڼلو په معنی ده، یعنی هغه بنده چی دخدای پروړاندی داحترام اوارزښت خاوند وی ، دکرامت درلودونکی دی، خپله یی فرمایلی چی دکرامت ترټولو لوړ معیاراوظابطه ، تقوی ده (الاه ان اولیاء الله لاخوف علیهم ولاهم یحزنون، الذین آمنوا وکانوا یتقون). په دی توګه خدای بندګانوته ترتقوی اوایمان بله ښه عطیه نده کرامت ښنلی .

پس هرڅوک چی باایمان تره اومتقی تره وی، مکرم تراومحترم تردی. ولی په عرف اواصطلاح کی په عرفانی متونو اوکلامی کتابونو کی کرامت هغه قولی اوعملی تصرفاتواوخارق العاده اعمالو ته ویل کیږی چی دخدای په اذن ځینو اولیاءالله ته دبزرګی ښوولواومکرم ګڼلو لپاره ، په مخ ورځی .

دکرامت اومعجزی توپیرهم په دی کی دی چی معجزه دتحدی اودغیرمسلمانانو دغوښتنی اودنبوت دصدق داثبات لپاره وی، اوښکاره کول یی مقصود اومطلوب وی،پداسی حال کی چی په کرامت کی دمنکرینوغوښت مطرح نه وی، اوښکاره کول یی که ښکاره نه وی ،نوپټول یی مطلوب دی. باید دی مهم ټکی ته پام وشی چی خارق العاده تصرفات په هغه وخت دتکریم نښانه وی، چی دشخص عمل اوژوند دکتاب اوسنت سره سم وی اودایمانی اوتقوی په ضوابطو سره ولاړ وی، اوکه نه خارق العاده اعمال دساحرانواودشیطان له پیروانوهم ښوول کیږی، اوهغه څه چی دتوپیروړ دی، هماغه له خدای اورسول څخه پیروی اومتابعت دی. ژباړن.